مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند

۲۰۱۸/۰۱/۱۷

# مــوږ تــه بـــریالی دی،

# زمــوږ قـــام دې وي

گــوره چې ښنه پـــام دې وي او پـــام دې وي
یو وخت نه، سهار او «شام و دام» دې وي

تـــه يي چـــي خـــام اخلـي، نـــو در وایېخله
داســې يـــي و نـــه گـنې چې خـــام دې وي

زه خـــو يـي گـنـمـه چـــي بــــری مـــو دی
تې چې بـــری نـــه گـنې، ستـا كـام دې وي

تـــا تـــه كـه نـــاكـــام وي، خود بې مات گنې
مـــوږ تـــه بـــریالی دی زمـــوږ قـــام دې وي

ما ته غـــاړه هسک لکه غر درنـد ښكاري
تـا تـــه كـــه ناكام وي، نـــو نـاكـام دې وي

تـــه وايي يـــو څـــه، زه بـل، زمـــان يـــو بـــل
پاس خو شين اسمان دی تـا تـه بـام دې وي

۲۰۱۷/۱۱/۱۷
هیدرسلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ